د افغانستان بانک

د پولي سیاست لوی امریت

د پولي سیاست میاشتنی راپور

**د پولي سیاست د شاخصونو تغیراتو ته لنډه کتنه**

**وری ۱۴۰۰**

# لړلیک


1. پولیسکتور ........ 3

۱.۱دپولیزیرمواوپهګردښتکېدپیسودودپراپور: ........ 3

۱.۲خالصپښړیوالپښتمنی ........ 3

1.3 دبهرنیواسعارواودپانګهایزوپانولیلام ........ 4

۱.۴دټکټانپلګښتونه ........ 9

۱.۵دتبادلپنرخ ........ 10

2. حقیقیسکتور ........ 12

۳. بهرنیسکتور ........ 18

۳.۱ دجاریحسابببیلانس: ........ 18

۳.۱.۱ دتوکودحسابببیلانس: ........ 18

۳.۱.۲ دخدماتودحسابببیلانس: ........ 19

۳.۱.۳. دلومړنیوعوایدوحساب: ........ 19

۳.۱.۴. دمنځنیوعوایدوحساب: ........ 19

۳.۲. پانګیزحسابببیلانس: ........ 19

۳.۳. دتادیاتودبیلانسمالیحساب: ........ 19

۳.۳.۱. مخامخبهرنیپانګونه : ........ 20

۳.۳.۲. پهارزښتلرونکوپاڼوکیپانګونه: ........ 20

4. مالیسکتور ........ 21

5. سویفت ........ 25

## ۱. پولیسکتور

### ۱.۱د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو د ودې راپور:


د پولي سیاست آمریت د پیسو غوښتنې اصلي او ګټورولارو ، د دولت مالي پروګرامونو (عوایدو او لګښت) ، اقتصادي ودې لر لید او په هیواد کې د قیمتونو د ټولیزې کچې له لارې د هېواد اقتصادي حالت ته په کتو د هېواد پیسو سیاستونه طرح کوي .

د پولي زیرمو (RM) کره مبلغ د مالي کال ۱۴۰۰ (۲۰۲۱) په پیل کې۹۹.۲۵۵،۳۵۲ملیونه افغانۍ ثبت شوی دی ،

او د وري میاشتې په پای کې یې کره مبلغ۳۱۹۱۴۸.۵۴ملیون افغانۍدی چې د مالي کال له پیل څخه تر اوسه بیا۹.۴۰سلنه منفي وده څرګندوي .

سربېره پردې ، د افغانستان بانک وتوانېدو په بریالیتوب سره په ګردښت کې پیسې (CiC) اداره کړي. د روان مالي کال په پیل کې په ګردښت کې ټولې پیسې ۳٤۱.۳۸،۲۹۳ملیونه افغانۍ وې او د وري میاشت په پای کې بیا ۲۸۶،۴۶۳.۲۵ملیونه افغانۍ وې چې ۲.۳۴سلنه منفي وده ښیي.

لاندې  ګراف د مالي کال۱۴۰۰ (۲۰۲۱) په جریان کې RM او CIC ښیي





سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

### ۱.۲خالصې نړیوالې شتمنۍ

خالصې نړیوالې شتمنۍ(NIR) راټولول، کوم چې د ملی اقتصاد د لوی اقتصادي شاخص په توګه پیژندل کیږي ، د هیواد په مالي سیستم کې یوه له ترټولو لویه لاسته راوړنه ده. د NIR راټولول پرته له شک څخه  د پولي سیاستونو غوره پلي کولو او د د لوی اقتصاد شاخصونو لکه د تبادلې نرخ ، انفلاسیون او تادیاتو بیلانس د تعادل د ثبات ساتلو باندې مخامخ اغیز لري .

د ۱۴۰۰مالي کال (۲۰۲۱) په پيل کې ، د افغانستان NIR کره اندازه۸،۱۸۶.۲۱مليونه ډالر ټاکل شوې وه مګر د NIR د بازار په نرخ حقيقي اندازه د وري په پای کې ۷،۷۹۶.۱۹مليون ډالرو ته رسېږي، چې د۳۹۰.۰۲مليون ډالرو کموالی ښيي.




د NIR وده په لاندې ګراف کې وړاندې کيږي:

سرچينه: دبازار عمليات / د پولي سياست آمريت


## 1.3 د بهرنيو اسعارو او د پانګه ايزو پاڼو ليلام

د نغدوالي د کنټرول لپاره ، د ډالرو عرضه کول په اقتصاد کې د افغانۍ د تبادلې د نرخ ډير بدلون راکموي ، د افغانستان بانک په اونۍ کې دري ځله د ډالرو ليلام او يو ځل د پانګه ايزو پاڼو د ليلام له لارې خپله موخه له نژدې اداره کوي چې دا دوه وسيلې دي او د ازاد بازار عملياتو له لارې عملي کيږي . د تفصيل لپاره هر وسيله په لاندې توضيحي کيږي.

- **د بهرنيو اسعارو ليلام**

د ۱۴۰۰(۲۰۲۱)مالي کال له پيل راهيسې د وري تر پای پورې ، د افغانستان بانک د آزاد بازار د عملياتو له لارې ټول ټال۶۶۱.۶۸مليونه امريکايي ډالر ليلام کړي او له بازار څخه يې۵۱.۰۸مليارده افغانۍ راټولې کړي دي. د آزاد بازار په عملياتو کې د اسعارو (په ځانګړې توګه د متحده ايالاتو ډالر) د ټول غوښتنې۲۹.۲۹سلنه پوره کړې. په ۱۴۰۰ مالي کال کبد

افغانستان بانک له تجارتي بانکونو له لارې**۹۳** مليونه ډالر د افغانستان برېښنا شرکت باندې پلورلي دي او په مقابل کې يې ۷.۱۶ملیارده افغانۍ را ټولې کړې.




لاندې جدول د تيرو ۱۳ کلونو په جريان کې د بهرني اسعارو غوښتنې او عرضه ښيي.

سرچينه: د بازار عمليات / د پولي سياست آمريت

- **د پانګه ايزو پاڼو ليلام**


د افغانستان بانک په بازار کې د نغدوالي د کنټرول،د بانکوالۍ سکتور کې د اضافه نغدوالي مخنوی، د تضمينونو لپاره منځنې بازارونه رامينځته کول، د تبادلې په نرخ کې د ثبات ساتلو ، د پولي سياست وسايلو ډيربښت رامينځته کول ، او سوداګريز بانکونه هڅول څوخپلې ټولې چارې په افغانيو ترسره کړي نو د افغانستان بانک په همدې موخه د پانګه ايزو پاڼو له ليلام څخه کار اخلي .


د ۱۴۰۰(۲۰۲۱) مالي کال کې د وري د مياشتې تر پايه پورې ، د پانګه ايز پاڼو نه ترلاسه شوې ونډه **۴۲.۶۳**ملیارده افغانيو ته رسيدلې او په عين حال کې د ياد شوي پاڼو ټولټال سود د دې مياشتې په پای کې**۶۳.۰۵**مليونه افغانيو ته رسيدلی.
لاندې شکل د مالي کال ۱۴۰۰(۲۰۲۱) د وري مياشتې تر پايه پورې د ۱۰ کلونو په جريان کې د پانګه ايزو پاڼو نه ترلاسه شوېونډهروښانهکوي.

سرچينه: د بازار عمليات / د پولي سياست آمريت

## ۷ ورځنۍ پانګه ايزې پاڼې

پهوري میاشت کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام د۱سلنهمنځني سود سره ۱.۳۷ ملیارده افغانیو ته رسېږي او نه ترلاسه شوې ونډه ۰.۷۰ملیارده افغانۍ ثبت شوه.





سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت.

## ۲۸ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې


د ارزول شوې مودې په پای کې د ۲۸ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې لیلام په اوسط ډول د ۴.۵۰سلنه سود او ۰.۲۵ملیارده افغانۍ په ارزښت وړاندې شوې دي اوټولټال نه ترلاسه شوې ونډه ۱.۷۲ملیارده افغانۍثبت شوه.




سرچینه: د بازار عملیات / پولي سیاست آمریت

## ۹۱ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې


په ارزول شوې موده کې د ۹۱ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼېندي پلورل شوې اود کب میاشتې تر پایه پوربآخرنی لیلام په اوسط ډول د۱.۷۶ سلنه سود او۰.۷ملیارده افغانیوپه ارزښت وړاندې شوی دی او د وري په پای کې ټولټال نه ترلاسه شوې ونډه ۰.۷۰ملیارده افغانۍثبت شوه.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۱۸۲ورځنۍ پانگه ایزې پاڼې

د دې راپور چمتوکولو د مودې تر پایه د افغانستان بانک د ۱۸۲ ورځو لپاره د پاڼووروستی لیلام۰.۱۵ملیارده افغانۍ او اوسط سود ۲.۰۰سلنې و او ټولټالنه ترلاسه شوي ونډه یې ۱.۶۷ملیارده افغانیو ته رسېږي.





سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۳٦۴ ورځنۍ پانگه ایزې پاڼې

د ۳٦٤ ورځو لپاره د پاڼو لیلام د وري میاشتې په پای کې ۰.۲۵ملیارده افغانۍ وچې منځني ډول د۵.۹۹ سلنه سود او او نه

ترلاسه شوې ونډه یې ۳۸.۵۴ملیارده افغانیو ته رسېږي.




په ۱۴۰۰ مالی کال کې د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو پلور او د ټکټانو منځنی نرخ

سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

### ۱.۴ د ټکټاني لګښتونه

د افغانستان بانک د تیرو ۱۲ کلونو په جریان کې د مالي کال ۱۴۰۰ (۲۰۲۱)د وري میاشتې پورې د پانګه ایز پاڼو لپاره

ټکټانې تادیه کړې دي چې ارقام یې په لاندې ډول ښودل شوي دي.



په ۱۲ مالی کلونو کې د پیسو تادیه شوي ټکټانې

## ۱.۵ د تبادلې نرخ

مرکزي بانک په بازار کې د اسعارو نرخ نه په نښه کوي. په هرصورت ، په نورو لوی اقتصادي شاخصونو د دې د پام وړ اغیزو په پام کې نیولو سره ، د افغانستان بانک د تبادلې نرخ چلند له نږدې څاري ترڅو د دې شدید بدلونونو مخه ونیسي. د معلوماتو ته په کتو ، د افغانۍ تبادلې نرخ د نړۍ د مهمو اسعارو په وړاندې یو څه بدلونونه ثبت کړي دي.


د ۱۴۰۰ مالي کال له پیل راهیسې افغانۍ د ډالر په مقابل کې۰.۷۱ سلنه ارزښت له مخې کموالی ښودلی دی ، او په منځنۍ ډول ډالر په۷۷.۳۰افغانۍ تبادله شوې او د وري په پای کې په۷۷.۶۶افغانۍتبادله شو.



## د پولي شاخصونو جدول

| شاخصونه | 1399 مالي کال | | | | | | 1400 مالي کال | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | سلواغه | کب | وری | غبرګولی | وږی | لیندۍ | سلواغه | کب | وری |
| د پولي زيرمو تاکلی هدف(٪) | ۱۲ | | | | | | ۱۱.۸۰ | | |
| د پولی زیرمو حقیقي وده(٪) | -۸.۲۵ | -۸.۰۰ | -۵.۰۰ | ۰.۴۲ | ۱.۸۲ | ۹.۶۸ | -۸.۰۳ | -۱۰.۱۹ | -۹.۴۰ |
| د پولی زیرمو حقیقي وده( ملیون افغانی) | ۲۹۵,۰۹۶.۹۷ | ۲۹۵۲۲۴.۵۲ | ۳۰۵۵۶۳.۶۹ | ۳۲۲۹۷۸.۲۷ | ۳۲۷۴۷۳.۸۰ | ۳۵۲۷۵۵.۷۸ | ۳۲۳۹۸۶.۶۷ | ۳۱۶۳۴۸.۲۹ | ۳۱۹۱۴۸.۵۴ |
| د پولي زيرمو تاکلې موخه ( مليون افغانۍ) | ۳۲۸,۰۷۹.۱۹ | ۳۳۱۰۳۹.۹۴ | ۳۳۴۵۲۹.۳۹ | ۳۴۰۸۷۳.۸۵ | ۳۵۰۷۰۷.۷۷ | ۳۶۰۸۶۷.۷۲ | ۳۵۹۰۸۸.۷۹ | ۳۶۲۵۰۵.۱۹ | ۳۶۶۲۳۰.۷۴ |
| گردښت کې پيسو حقيقی وده ( مليون افغانۍ) | ۲۵۸,۸۴۵.۸۷ | ۲۵۹,۳۰۲.۱۲ | ۲۷۰,۰۱۲.۰۳ | ۲۷۹,۹۸۹.۸۹ | ۲۸۳,۴۳۸.۲۲ | ۲۹۳,۳۴۱.۳۸ | ۲۸۶,۹۳۴.۵۹ | ۲۸۵۰۰۳.۰۲ | ۲۸۶,۴۶۳.۲۵ |
| د گردښت پيسو تاکلې موخه ( مليون افغانۍ) | ۲۶۵,۶۱۷.۰۱ | ۲۶۶,۹۳۸.۶۳ | ۲۷۱,۸۸۴.۰۴ | ۲۷۴,۸۶۸.۳۴ | ۲۸۲,۷۹۸.۰۶ | ۲۹۷,۴۷۴.۴۳ | ۲۹۸,۱۶۳.۴۳ | ۳۰۰۵۷۴.۴۶ | ۳۰۴,۵۹۰.۹۴ |
| په نړيوالو زيرمو کي حقيقي وده (مليون ډالر) | ۷,۸۶۰.۸۰ | ۷,۷۱۱.۸۵ | ۷,۶۷۰.۸۲ | ۸,۱۲۸.۷۸ | ۸,۳۳۴.۴۰ | ۸,۳۹۸.۱۱ | ۸,۱۸۴.۳۴ | ۸۱۴۷.۶۸ | ۷,۷۹۶.۱۹ |
| په نړيوالو زيرمو کي تاکلي موخه (مليون ډالر) | ۷,۹۶۴.۵۱ | ۷,۸۴۶.۰۷ | ۷,۹۳۵.۵۱ | ۷,۹۱۹.۴۱ | ۷,۹۱۹.۴۱ | ۷,۸۱۹.۰۰ | ۸,۲۵۱.۹۵ | ۸۱۷۸.۳۳ | ۸,۰۱۷.۲۱ |
| د بانکه ايز پانو ناترلاسه شوې برخه | ۳۰,۶۷۰ | ۳۰,۴۵۵ | ۲۸,۰۶۰ | ۳۴,۴۹۵ | ۳۹,۵۹۰ | ۴۶,۴۰۰ | ۴۴,۹۷۵ | ۴۴۶۳۵.۰۰ | ۴۲,۶۳۵ |
| اجباري زېرمې (لازمي زېرمې) مليونونه افغانۍ | ۶,۰۲۷.۵۳ | ۵,۹۲۸.۷۵ | ۵,۹۳۴.۸۵ | ۶,۲۷۱.۶۷ | ۶,۹۱۴.۳۶ | ۷,۳۱۴.۹۸ | ۸,۲۶۰.۶۴ | ۸۰۵۶.۰۵ | ۷,۳۹۴.۳۰ |

## 2. حقیقی سکتور




**د پیسو ټولیز پړسوب دکلنۍ محاسبې پر بنسټ  وري میاشت کې زیات بدلون ښکاره کوي.**

د پیسو ټولیز پړسوب کچه د 1400لمریز لیږدیز کال دکلنیبدلونونو پر بنسټ دورپیه میاشت کې کمواليکړی دی. دمصرفي توکو ټولیزپیسو پړسوب له 4.42سلنې 0.80-سلنې پورې کمواليځرګندوي. داکمواليزياته برخه د خوراکي توکي او په لږه اندازه غېرخوراکيتوکو دقیمتونو دکموالي  نه سرچېنه اخیستې ده،  چې ټولیز شاخص یې تر اغېزیلاندې نیولی دی.

| توکي | کلنی بدلون | | وړاندینه | | میاشتنی بدلون | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | کب 1399 | وری 1400 | غویی 1400 | غبرگولي 1400 | کب 1399 | وری 1400 |
| **ټولیز پړسوب** | 4.42 | -0.80 | 0.36 | 1.55 | 0.48 | 1.29 |
| *خوراکي او غیرې الکولي څښناک* | 4.96 | -4.73 | -3.05 | 0.31 | 0.29 | 2.06 |
| *غیرې خوراکي توکي،تنباکواو چوپړتیاوی* | 3.88 | 3.60 | 4.11 | 5.52 | 0.68 | 0.51 |
| *ټولیز شاخص د استوگن ځایونو ،غلو دانو،غوړیو او ترانسپورټ څخه پرته .* | 3.05 | -1.46 | 0.46 | 1.97 | 0.23 | 1.47 |
| *پیسو پړسوب دخلاصه شوي اوسط(30٪)(لنډیز Trimmed mean)* | 3.78 | 2.26 | 2.3 | 3.0 | | |
| **دکابل شاخص** | | | | | | |
| *ټولیزپیسو پړسوب* | 4.98 | -0.39 | | | 1.06 | 1.53 |
| *خوراکي توکیاو غیر الوکلي څښناک* | 3.96 | -7.36 | | | 1.28 | 3.30 |
| *غیرې خوراکي توکي ،تنباکو او چوپړتیاوې* | 5.66 | 4.94 | | | 0.93 | 0.37 |

**1-جدول عمومی پړسوب د هیوادپه کچه**

او له بلې خوا، څرنگه چې دمیاشتیني محاسبې پر بنست چې توپیرونه په لندمهاله توگه د څیړنې لاندې نیول کېږي اوپه لنډ مهاله توگه بدلونونه څیړي د دې محاسبې پر اساس له 0.48سلنې څخه تر 1.29 سلنې پورې دورى په میاشت کې لوړ شویدي

**دخوراکي توکو شاخص دکلني بدلون پر بنسټ د ټیټ قیمتونو ښکارندوی دی.**

د احصائې او معلو ماتو ملي اداري د وروستیو ارقامو د لاس ته راوړلو پر اساس دکلني محاسبې پر بنسټ د خوراکي توکو قیمت له 4.96سلنې نه4.73- سلنې پورې کموالی څرگندوي . د دېکموالی اصلي لامل هم بهغیر له غیر الکولی څښناک نه ددې شاخص تولو اجزاوو دقیمتونو کموالیدی. چې دا شاخص یې تر اغیزې لاندی نیولي دی.

### د خوراکي توکي شاخص د میاشتیني محاسبې پر بنسټ وری په میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي

د خوراکي توکو شاخص په برخه کې دمیاشتیني بدلون معیار پربنسټدوریمیاشت کې 2.06سلنې ته رسیدلی دی، حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې 0.29سلنه سنجش شوی وو. ددې برخې شاخص په بیه کې زیاتوالی دخوراکي تو کو ټولو اجزاووکې به غیر له غله او دانه ،دقیمتونو جګوالي له امله را منځ ته شوی دی

| 2-جدول :خوراکي توکي د پېسو پړسوب | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| توکي | ونډه (٪) | کلني بدلون | | میاشتني بدلون | |
| | | کب1399 | وری1400 | کب1399 | وری1400 |
| خوراکي توکو پړسوب او غیرې الکولي څښناک | **47.8** | 4.96 | -4.73 | 0.29 | 2.06 |
| ډوډي اوړه غلې دانې | **14.6** | 8.96 | -2.04 | 0.30 | -0.31 |
| غوښه | **7.5** | 9.17 | 7.48 | 0.32 | 1.85 |
| لبنیات(شیدې،پنیر،هګۍ) | **4.7** | 3.51 | 0.69 | -0.48 | 0.58 |
| غوړي | **4.6** | 18.78 | 15.87 | 1.79 | 3.19 |
| وچه او تازه میوه | **5.0** | -0.27 | -8.87 | 3.18 | 8.73 |
| سابه | **6.0** | -9.69 | -30.91 | -2.37 | 4.76 |
| خواږه | **2.7** | 7.08 | 3.69 | 0.12 | 0.38 |
| مصاله | **1.3** | -9.10 | -21.35 | -1.15 | -0.22 |
| غیرې الکولي څښناک | **1.4** | 2.14 | 2.36 | 0.08 | 0.15 |

### دکلني محاسبې پر بنسټ دوریپه میاشت کې د غلې دانې قیمتونو کموالیکړی دی

**ډوډۍ، اوړه او غلې دانې** چې ټولیز پړسوب کې ۱۴.٦ سلنه ونډه لري ،د کلني محاسبې پر بنسټله 8.96سلنې نه تر -2.04 سلنې پورې دوریپه میاشت کې کم شوی دی. اوهمدا راز د میاشتیني محاسبې پر اساس د دې برخې شاخص 0.30سلنه کبپه میاشت کې تر0.31-سلنې پورې د خیړنې په دوره کېکموالی موندلی دی. لکه څرنګه چې معلومه ده زمونږ هیواد یو وارداتي هیواد دي ،نو د کویډ 19 وایروس په خاطر دلګول شوی محدودیتونو لکه د (پولو ترل ) دله منځ ورلو له امله د څیړنې په موده کې د اجناسو قیمتونه بیرته خپل عادی حالاتو ته نږدی شوی دی .او همدا راز د وریجو بیه په نړیوال بازار کې د تیر کال د ورتې میاشت

په پړتله 12.2 سلنه کې کموالي موندلي دی،  یاد شوې  لاملونه ددې شاخص بیه د څېړنې په موده کې تر اغیزې لاندې نیولي دی.

**خواړه**  چې په عمومي شاخص کې 2.7 سلنه ونډه لري ،له 7.08سلنېتر 3.69سلنې پورې د وریپه میاشت کېکموالیکړی دی. اوهمدا راز د میاشتیني محاسبې پر اساس ددې شاخص قیمت  له 0.12 سلنې تر 0.38سلنې پورې زیاتوالیموندلی دی.  لکه څرنګه چې معلومه ده زمونږ هیواد خپله زیاته برخه خواړه د هند له هیواد نه په دې ورسیتو وختونو کې وارد کړي ، په هندوستان هیواد کې د تلې میاشت نه را پدیخوا د بورې بیه مخ په ټیټیدو دی او لامل یې هم د بورې د تولید زیاتوالي دي .چې تقریباً په دغه موده کې 15.89 سلنه کې د بورې تولیداتو کې زیاتوالی راغلې او ددې لامل ګرځیدلي چې د بورې بیه پدې هیواد کې ټیټه شي . چې دا دبورې بیه کمیدل زمونږ بر وارداتو اغیزه کړی او دبورې بیه په هیواد کې کمه شوی دي.

او همدا  رازپه هیواد کې د بیلګې په توګه د دننګر هار ،خوست او پکتیا و لایتونو  کې د شاتو د تولید زیاتوالي چې تقریباً د کال په لړ کې  2500 تنو ته رسیږي  ددې لامل ګرځیدلي دې چې په هیواد کې د خواړو بیه تر اغیزې لاندې ونیسې .

| 3-جدول:غیرې خوراکي توکوپړسوب | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **اقلام** | **ونډه (٪)** | **کلنی بدلون** | | **میاشتیني بدلون** | |
| | | **کب1399** | **وری1400** | **کب1399** | **وری1400** |
| **غیرې خوراکي توکي تنباکو او چوپړتیاوې** | **52.2** | 3.88 | 3.60 | 0.68 | 0.51 |
| **سګرټ او تنباکو** | **0.3** | 5.50 | 4.73 | 0.91 | 0.43 |
| **جامې** | **4.6** | 6.16 | 6.72 | -0.08 | 0.66 |
| **استوګن ځای** | **19.1** | 2.51 | 2.53 | -0.08 | 1.17 |
| **دکور سامانونه** | **11.9** | 6.62 | 6.13 | 1.43 | -0.03 |
| **روغتیا** | **6.2** | 5.35 | 4.14 | 0.18 | -0.28 |
| **ترانسپورت** | **4.3** | -2.42 | -2.07 | 4.78 | 1.71 |
| **مخابرات** | **1.7** | 0.76 | 0.54 | 0.43 | -0.27 |
| **اطلاعات و فرهنګ** | **1.1** | 1.90 | 0.78 | 0.02 | -0.97 |
| **ښوونه او روزنه** | **0.4** | 5.02 | 6.13 | 0.05 | 1.18 |
| **هوټل او رستورانت** | **1.1** | 0.30 | -0.06 | 0.24 | -0.32 |
| **متفرقه** | **1.4** | 6.35 | 4.14 | -0.58 | -0.42 |

## غیرې خوراکي توکیکلنیپړسوب دوری په میاشت کې کموالی کړی دی

**غیرې خوراکي**توکو شاخص چې د ټولیز شاخص 52.2 سلنه جوړوید1400 لمریز لیږدیز کال د وری په میاشتکې کموالي موندلی دی او 3.60سلنېته رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تېره میاشت کې3.88سلنه سنجش شوی وو. او داکموالي اصلی لامل د تنباکو،د کور سامانونه ،درملنه ، مخابرات ،اطلاعات او معلومات او رستورانت او هوتل او متفرقه د شاخصونو نه دبیېکمیدل گڼل کېږي.

دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ ددغېبرخې شاخص له 0.68سلنه کب په میاشت کې تر 0.51سلنې پورې دوریمیاشت کې کموالیکړی دی .

د **رستورانټ او هوټل**شاخص بیه له 0.30سلنې تر0.06- سلنې پورې د روان کال د وری میاشت کې کموالي کړی دی. همدا راز دمیاشتیني سنجش پر بنسټ دا شاخص د غېرې خوراکي توکو له برخې نه له 0.24سلنهتر 0.32- سلنې پورې د څیړنې په دوره کې کمښت کړی دی. ددې شاخص د کمیدلو اصلي لامل د څیړنې په موده کې د خواکي توکو د بیلگې په توگه د غوړی ، غله او دانه ،غوښه سابه او خواړو بیې کمیدل دی چې دا شاخص یې تر اغیزی لاندی نیولی دي.

**روغتیا**شاخص چې په ټولیز پړسوب کې 6.2 سلنه ونډه لري، دکلني محاسبې پر بنسټ د روان کال دوری په میاشت کې تر 4.14سلنې پورې کم شوی ده، حال دا چې دا رقم په تېره میاشت کې5.35سلنه ثبت شوي وه.له بلېخوا د میاشتیني محاسبې پر بنسټ له 0.18سلنې تر 0.28-سلنې پورېکموالي ښکاره کوي.افغانستان خپل داړتیا وړ 90 سلنه درمل له بهرنیو هیوادونو څخه واردوی ،او ددې درملو 70 سلنه په غیرقانونی او د مالیاتو پرته هیواد ته واردوي،چې ددې شاخص نرخ کمولو لیو لامل کڼل کیږی.او همدا راز د کوید 19 ناروغی د کمیدلو سره د لیگدل شوي بندیزونو له منځه تلل د تیر کال دورته میاشت په پرتله او په هیواد کې داروگانو ته د غوښتنی کموالی دا هغه لاملونه دی چې ددی برخې شاخص یی تر اغیزی لاندی نیولی دی.

## دهستې انفلاسیون (اصلي انفلاسیون)


په هېواد کې د هستې انفلاسيون کچه د د افغانستان بانک د پاليسو اغيزمنتيا د قيمتونو ټوليزې  کچې باندې د کنترول ښکارندويي کوي. د دې معيار پربنسټ، د انفلاسيون د کچه  بدلونونه چې غير عادي عوامل لري او د کنترول نه هم بهر دي، په شاخص کې په پام کې نه نيول کېږي د انفلاسيون دکچې زياته برخه د فصلي بدلونونو او کله ناکله د غيرې عادي پيښبو له امله

| دهيواد په کچه د هستېپړسوب بدلون | | |
|---|---|---|
| **توکي** | **کب1399** | **وری1400** |
| | **کلنی بدلون پر بنسټ** | |
| **پيسو پړسوب  د خلاصه شوي اوسط (%۳۰)(لنډيز (Trimmed mean** | 3.78 | 2.26 |
| **ټوليز شاخص د استوگن ځايونو،غلو دانو ،غوړيو او ټرانسپورټ ځخه پرته .** | 3.05 | -1.46 |

اغيزمنکيږي. استفاده کيږي. په دغه کړنلاره کې هغه اجزاوی چې په غېر عادي توگه قيمتيې بدلون مومي په شاخص کې ترنظر لاندې نه نيول کيږي تر څو پورېپه ټوليز شاخص باندې يې د اغيزې نه مخنيوی وشي .

د هستې انفلاسيون د معلومولو له معيارونو څخه يو يې هم د اوسط لنډيز (Trimmed Mean%30 ) دی.  دغه معيار يو مشخصه برخه په نظر کې نيسي او د ساده لنډيز شاخص په اساس وروسته له نظر لاندې اجزاوېتر لرې کولو وروسته محاسبه کيږي .د دې معيار په اساس پيسو پړسوب د1400لمريز ليږديز کال دکبېهمياشت کې له 3.78سلنې  تر 2.26سلنې پورېدوريېه مياشت کې کم شوی دی.

بل معيار د هستې تورم عبارت دی له**لگښتي توکو شاخص  بې د ډوډۍ ،غوړي او ترانسپورټ**څخه . چې پيسو پړسوب د دې معيار  په اساس 1.46-سلنې ته د وريېه مياشت کې رسيدلی دی حال دا چې دا رقم په تېره مياشت کې3.05سلنه سنجش شوی وو. د دې معيار  له مخې د مياشتيني محاسبې پر بسټ له 0.23سلنې تر1.47سلنې پورېزياتواليښکاره کوي.




## ۳. بهرنۍ سکتور

### ۳.۱ د جاري حساب بیلانس:

د راټول شویو ارقامو له مخې ،د هیواد د تادیاتو د بیلانس د جاري حساب کسر (په شمول د رسمی لیږدونو) د ۱۴۰۰ لمریز لیږدیز کال په لمړنی ځلوریزه کې، د تیر کال د لمړی ځلوریزې په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی راغلی دي. د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په لمړی ځلوریزه کې د جاري حساب کسر تقریبا ۹۵۹.۳۵ میلونه ډالره ثبت شوی وو، حال دا چې دا رقم د ۱۴۰۰ لمریز کال په لمړی ځلوریزه کې ۱۰۴۷.۴۳ میلونونه ډالرو ته را رسیدلی دي. د دې کسر د زیاتوالی اصلی علت، د صادراتی توکو په عوایدو کی کمښت، په خدماتی عوایدو کی کمښت او همدا رنگه د وارداتی توکو په لکښتونو کی د زیاتوالی پایله ده .

#### ۳.۱.۱ د توکو د حساب بیلانس:

د رارسیدلو ارقامو له مخی د هیواد د توکو د حساب کسر د روان لمریز لیږدیز کال په لمړی ځلوریزه کی د تیرلمریز لیږدیز کال د لمړنی ځلوریزی په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی راغلی، چی له ۱۱۷۵.۴۳ میلونو ډالور څخه چی د تیر کال په لمړنی ځلوریزی کی ثبت شوی وه د روان لمریز لیږدیز کال په لمړی ځلوریزی کی ۱۲۱۳.۴۳ میلونو ډالرو ته رسیدلی دی.

په ټوله کې د توکو صادرات د روان لمریز لیږدیز کال په لمړنی ځلوریزه کې د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال د لمړنی ځلوریزې په پرتله ۲ سلنه کمښت ښودل شوی دی. چې له ۲۰۳.٦۴ میلونو ډالرو څخه چی د تیر کال په لمړی ځلوریزه کې ثبت شوی وو، د روان لمریز لیږدیز کال په لمړنی ځلوریزی کې تقریباً ۲۰۰.۱۰ میلونه ډالره رسیدلی دی. په ټوله کی د صادراتی توکو د کمښت اصلی لاملونه، د طبعی درملو په توکو کی د کمښت پایله ده.

په همدې ډول د توکو په ټولیزو وارداتو کې د تیر لمریز لیږدیز کال د لمړی څلوریزې په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی راغلی، چې تیر کال په لمړی څلوریزه کې د توکو ټول واردات ۱۳۷۹.۰۷ میلونه ډالر ثبت شوي وه، خو دا رقم د روان لمریز لیږدیز کال په لمړنی څلوریزه کې ۱۴۱۳.٦۲ میلونه ډالره ته رسیدلی. په ټوله کی د وارداتی توکو د زیاتوالی اصلی وجه په لگښتی توکو کی لکه (غنم، وړه، نباتی غوړی، بوره، او طبی درملو) د کمښت پایله ده.

### ۳.۱.۲ د خدماتو د حساب بیلانس:

د تجارتی ارقامو د دری میاشتنی مقایسی له مخی، د روان لمریز لیږدیز (۱۴۰۰) کال په لمړی څلوریزه کې د خدماتو بیلانس په کسر کې ۹۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی چې د تیر لمریز لیږدیز (۱۳۹۹) کال په لمړی څلوریزه کې ۷۴.۴٦ میلونه ډالره ثبت شوي وه خو بیا دا رقم د روان لمریز لیږدیز کال په لمړنی څلوریزه کې ۱۴۱.۷۴ میلونه ډالرو ته را رسیدلی دی.

په ټوله کی د توکو او خدماتو حساب (د تجارت حساب) کسر د روان لمریز لیږدیز کال په لمړی څلوریزی کی ۸ سلنه زیاتوالی راغلی. د دغه زیاتوالی اصلی لاملونه؛ په صادراتی عوایدو کی کمښت، خدماتی عوایدو کی کمښت او برعکس د وارداتی توکو په لکښتونو کی د زیاتوالی پایله ده.

### ۳.۱.۳. د لومړنیو عوایدو حساب:

د لومړنیو عوایدو د حساب ټول خالص عواید د روان لمریز لیږدیز ۱۴۰۰ کال په لمړی څلوریزه کې ،د تیر لمریز لیږدیز کال ۱۳۹۹ د لمړی څلوریزی په پرتله ٦۱ سلنه کمښت ښودل شوی دي، او له ٦۳.۲۳ میلنونو ډالرو څخه ۲۴.۳۹ میلنونو ډالرو ته رسیدلی دی. د دی کمښت اساسی لامل د بهرنی پانگونود کمښت له وجه نه د عوایدو به کچه کی د کمښت پایله ده.

### ۳.۱.۴. د منځنیو عوایدو حساب:

دمنځنیو عایدو حساب د روان لمریز لیږدیز ۱۴۰۰ کال په لمړی څلوریزه کې د تیر لمریز لیږدیز۱۳۹۹ کال د لمړی څلوریزې په پرتله ۵ سلنه زیاتوالی راغلی دی چې له ۳۲۷.۸۷ میلونو ډالرو څخه ۳۴۵.۷۰ میلونو ډالرو ته رسیدلی دي.

په منځنیوی عواید کی د زیاتوالی اصلی لامل ۱۴ سلنه زیاتوالی په جاری لیږدونو (بلاعوضه مرستی) کی ښودل شوی دی، چی له ۱٦۴.۳۸ میلونو ډالرو څخه چی د تیر لمریز لیږدیز کال په لمړی څلوریزه کی ثبت شوی وه، د روان کال په ورته څلوریزه کی ۱۸۷.۷ میلونو ډالرو ته ریات شوی دی.

په ورته وخت کی له بهر څخه د خصوصي (انفرادي ) اشخاصو د پیسو لیږد د تیر لمریز کال د لمړی څلوریزی په پرتله تقریباً ۳ سلنه کمښت راغلی دي. د رارسیدلو ارقامو له مخی د انفرادی اشخاصو د پیسو لیږد د روان لمریز کال په لمړی څلوریزه کی تقریباً ۱۵۸ میلونه ډالر ته را رسیدلی دی، حال دا چی دا مقدار د تیر کال په ورته دوره کی تقریباً ۱٦۳.۵۰ میلونه ډالره راپور ورکول شوی وه.

### ۳.۲. پانګیز حساب بیلانس:

د تادیاتو بیلانس پانګیز حساب د روان لمریز کال په لمړی څلوریزه کی د تیر کال د لمړی څلوریزی په پرتله ۴ سلنه کمښت راغلی ده ،چې له ۴۰.۳۰ میلونو ډالرو څخه چی د تیر لمریز کال په لمړنی څلوریزه کی ثبت شوی وه د روان لمریز لیږدیز کال په لمړی څلوریزه کې ۳۸.۴۹ میلونه ډالرو ته رسیدلی دی.

### ۳.۳. د تادیاتو د بیلانس مالي حساب:

بهرني پانګونه چی په اصل کی د مخامخ پانګونې ،ارزښت لرونکو پانو کې پانګونه او نورو ټولو پانګونو څخه ترکیب شوي د تادیات بیلانس د مالي حساب مهمه برخه تشکیلوی.

### ۱.۳.۳. مخامخ بهرنی پانګونه :

د رارسیدلو ارقامو له مخې د روان لمریز لیږدیز کال ۱۴۰۰ په لمړی ځلوریزه کې تقریباً ۲.۵۵ میلونه ډالره د مخامخ بهرنی پانګونی په برخه کې د خالصو دارائی په توګه راپور ورکول شوي دي. حال داچې دا رقم د تیر کال په ورته ځلوریزه کې ۲.۹۱ میلونه ډالره راپور ورکول شوی وه.

- مخامخ پانګونه په بهر کې (دارایی): د روان لمریز لیږدیز کال ۱۴۰۰ په لمړی ځلوریزه کې ۲٦ سلنه زیاتوالی راغلی چې له ٦.١٠ میلونو ډالرو څخه چې د تیر لمریز لیږدیز کال په لمړنی ځلوریزه کې ثبت شوی وه د روان کال په ورته ځلوریزه کې ٧.٧٠ میلونو ډالرو ته رسیدلی دی.
- همدا ډول مخامخ پانګونه د ننه هیواد کې (مسؤلیتونه): له ٣.١٩ میلونو ډالرو څخه چې د تیر لمریز لیږدیز کال په لمړی ځلوریزه کې ثبت شوي وه، د روان کال ورته ځلوریزی کې ٥.١٥ میلونو ډالرو ته را رسیدلی دی.

### ۲.۳.۳. په ارزښت لرونکو پاڼو کې پانګونه :

د را رسیدلو ارقامو له مخې په ارزښت لرونکو پاڼو کې پانګونه د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په لمړی ځلوریزه کې ۱۸.۲۰- میلونه ډالره ثبت شوی وه، حال دا چې دا رقم د روان لمریز لیږدیز کال په لمړی ځلوریزه کې ۲۸.۹۸- میلونو ډالره راپور ورکول شوی ده.

.

جدول.۱: دافغانستان د تادیاتو بیلانس په(میلیون امریکایی ډالرو)


| ارقام/دوره | لمړی ځلوریزه ۱۳۹۹ | دویمه ځلوریزه ۱۳۹۹ | دریمه ځلوریزه ۱۳۹۹ | ځلورمه ځلوریزه ۱۳۹۹ | لمړی ځلوریزه ۱۴۰۰ | په سلنه کی تغیر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **جاری حساب** | **-۹۵۹.۳۵** | **-۴۲۶.۸۷** | **-۹۰۳.۷۲** | **-۸۴۶.۸** | **-۱۰۴۷.۴۳** | **۰.۰۹** |
| کریډت | ۸۰۲.۶۱ | ۸۴۴.۶۳ | ۱۲۵۳.۰۳ | ۱۳۳۶.۲ | ۷۰۶.۲۲ | -۰.۱۲ |
| ډیبټ | ۱۷۶۱.۹۶ | ۱۲۷۱.۵ | ۲۱۵۶.۷۵ | ۲۱۸۳. | ۱۷۵۳.۶۶ | ۰. |
| **د توکو او خدماتوحساب** | **-۱۲۴۹.۸۹** | **-۱۰۴۱.۷۷** | **-۱۶۶۱.۱۷** | **-۱۵۵۳.۷۱** | **-۱۳۵۵.۱۷** | **۰.۰۸** |
| کریډت | ۳۹۹.۶۹ | ۱۴۶.۴۵ | ۳۸۳.۲ | ۵۴۶.۹۷ | ۳۲۲.۰۲ | -۰.۱۹ |
| دبت | ۱۶۴۹.۵۸ | ۱۱۸۸.۲۲ | ۲۰۴۴.۳۸ | ۲۱۰۰.۶۷ | ۱۶۷۷.۱۹ | ۰.۰۲ |
| **د توکو حساب** | **-۱۱۷۵.۴۳** | **-۹۶۰.۸۹** | **-۱۵۳۳.** | **-۱۴۳۱.۵۸** | **-۱۲۱۳.۴۳** | **۰.۰۳** |
| کریډت | ۲۰۳.۶۴ | ۳۲. | ۱۹۸.۴۲ | ۳۴۲.۶۷ | ۲۰۰.۱۸ | -۰.۰۲ |
| دبت | ۱۳۷۹.۰۷ | ۹۹۲.۸۹ | ۱۷۳۱.۴۲ | ۱۷۷۴.۲۶ | ۱۴۱۳.۶۲ | ۰.۰۳ |
| **دخدماتو حساب** | **-۷۴.۴۶** | **-۸۰.۸۸** | **-۱۲۸.۱۷** | **-۱۲۲.۱۲** | **-۱۴۱.۷۴** | **۰.۹** |
| کریډت | ۱۹۶.۰۵ | ۱۱۴.۴۵ | ۱۸۴.۷۸ | ۲۰۴.۲۹ | ۱۲۱.۸۳ | -۰.۳۸ |
| دبت | ۲۷۰.۵۱ | ۱۹۵.۳۳ | ۳۱۲.۹۶ | ۳۲۶.۴۱ | ۲۶۳.۵۷ | -۰.۰۳ |
| **د لومړنیو عوایدو حساب** | **۶۳.۲۳** | **۳۰.۲۲** | **۵۱.۷۷** | **۴۴.۰۱** | **۲۴.۳۹** | **-۰.۶۱** |
| کریډت | ۷۵.۰۵ | ۴۲.۱۴ | ۶۵.۵۸ | ۵۷.۶۳ | ۳۸.۵۱ | -۰.۴۹ |
| دبت | ۱۱.۸۲ | ۱۱.۹۲ | ۱۳.۸۱ | ۱۳.۶۳ | ۱۴.۱۱ | ۰.۱۹ |
| **د منځنیو عوایدو حساب** | **۲۲۷.۳۱** | **۵۸۴.۶۸** | **۷۰۵.۶۹** | **۶۶۲.۹** | **۲۸۳.۳۴** | **۰.۲۵** |
| کریډت | ۳۲۷.۸۷ | ۶۵۶.۰۵ | ۸۰۴.۲۵ | ۷۳۱.۶ | ۳۴۵.۷ | ۰.۰۵ |
| دبت | ۱۰۰.۵۷ | ۷۱.۳۶ | ۹۸.۵۶ | ۶۸.۷ | ۶۲.۳۶ | -۰.۳۸ |
| **جاری لیږدونی (رسمی مرستی)** | **۱۶۴.۳۸** | **۵۰۰.۷۶** | **۵۷۳.۶۷** | **۵۵۸.۷۳** | **۱۸۷.۷** | **۰.۱۴** |
| کریډت | ۱۶۴.۳۸ | ۵۰۰.۷۶ | ۵۷۳.۶۷ | ۵۵۸.۷۳ | ۱۸۷.۷ | ۰.۱۴ |
| دبت | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |


| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **خصوصی لیږدونی** | **۹۵.۹۱** | **۱۰۸.۲۵** | **۱۷۶.۹۳** | **۱۵۰.۳۶** | **۱۳۱.۶۸** | **۰.۳۷** |
| کریدت | ۱۶۳.۵ | ۱۵۵.۲۹ | ۲۳۰.۵۷ | ۱۷۲.۸۷ | ۱۵۸. | -۰.۰۳ |
| دبت | ۶۷.۵۹ | ۴۷.۰۴ | ۵۳.۶۴ | ۲۲.۵۱ | ۲۶.۳۲ | -۰.۶۱ |
| **پانګیز حساب** | **۴۰.۳** | **۹۹.۶** | **۱۰۲.۲۳** | **۵۱۰.۹۹** | **۳۸.۴۹** | **-۰.۰۴** |
| کریدت | ۴۰.۳ | ۹۹.۶ | ۱۰۲.۲۳ | ۵۱۰.۹۹ | ۳۸.۴۹ | -۰.۰۴ |
| دبت | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **پانګیزی لیږدونی** | **۴۰.۳** | **۹۹.۶** | **۱۰۲.۲۳** | **۵۱۰.۹۹** | **۳۸.۴۹** | **-۰.۰۴** |
| کریدت | ۴۰.۳ | ۹۹.۶ | ۱۰۲.۲۳ | ۵۱۰.۹۹ | ۳۸.۴۹ | -۰.۰۴ |
| دبت | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **مالی حساب** | **-۱۴۷.۵** | **۳۴۶.۹۹** | **۷۸.۲۹** | **۳۳۸.۷۹** | **-۳۰۵.۴۸** | **۱.۰۷** |
| **مستقیمه پآنګونه** | **۲.۹۱** | **-۰.۴۳** | **۵.۳۴** | **۱۶.۴۴** | **۲.۵۵** | **-۰.۱۲** |
| شتمنی | ۶.۱ | ۲.۵۹ | ۱۰.۱۲ | ۱۸.۴۲ | ۷.۷ | ۰.۲۶ |
| پورونه (مسولیت) | ۳.۱۹ | ۳.۰۲ | ۴.۷۸ | ۱.۹۸ | ۵.۱۵ | ۰.۶۱ |
| **غیر مستقیمه پانګونه** | **-۱۸.۲** | **۴۱.۱۹** | **۷۶.۷۲** | **-۳۶.۴۶** | **-۲۸.۹۸** | **۰.۵۹** |
| شتمنی | -۱۸.۲ | ۴۱.۱۹ | ۷۶.۷۲ | -۳۶.۴۶ | -۲۸.۹۸ | ۰.۵۹ |
| پورونه (مسولیت) | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **متفرقه پانګونه** | **-۲۲.۵۴** | **-۲۹۰.۹۳** | **-۴۸.۵** | **۶۰.۸۲** | **-۹۴.۷۱** | **۳.۲** |
| شتمنی | -۳۸.۲۲ | -۷۴.۰۹ | -۴۶.۰۳ | ۱۵۸.۴۵ | -۱۰۴.۳۱ | ۱.۷۳ |
| پورونه (مسولیت) | -۱۵.۶۷ | ۲۱۶.۸۴ | ۲.۴۸ | ۹۷.۶۳ | -۹.۶ | -۰.۳۹ |
| **شتمنیز زیرمی** | **-۱۰۹.۶۷** | **۵۹۷.۱۶** | **۴۴.۷۴** | **۲۹۷.۹۹** | **-۱۸۴.۳۳** | **۰.۶۸** |
| **خالصه تیروتنی** | **۷۷۲** | **۶۷۴.۲۶** | **۸۷۹.۷۷** | **۶۷۴.۵۹** | **۷۰۳.۴۷** | **-۰.۰۹** |

## 4. مالی سکتور

د مالي پالیسی اصلي موخه د عایداتو په راټولولو کې د دوامداره زیاتوالیراوړل دي،څو په تدریجي توګه، عادي او پرمختیایي لګښتونه چې له بهرنیو مرستو له لارې تمویلیږي،د بودجې تخصیص د افغانستان له ملي پرمختیایي ستراتیژۍ سره مطابقت پیدا کړي . سربیره پر دې، نورې موخې د عامه لګښتونو مدیریت ښه والی، د مالي پالیسي اصلاح کول، د مالی پالیسیو رامینځته کول، د شرکتونو، ګمرکاتو او د مالیې آغیزمنتوب او اداره کول دي.

د 1400لمریز لیږدیزمالي کال له پیل څخه ټوله ملي بودجه 473.04 میلیارده افغانۍوه خو د تیر مالي کال بیا(1399) لمریز لیږدیزمالي کال 428.38 میلیارده افغانۍ وه، چې 44.66 میلیارده افغانۍ او یا د ٪10.43 ډیرښت څرګندوي . د1400لمریز لیږدیزمالي کال عادي یا عملیاتي بودجه 311.41 میلیارده افغانۍ او پراختیایي بودجه بیا 161.64 میلیارده افغانۍ اټکل شوې ده .




سرچینه: د ماليې وزارت/د پولی سیاست د آمریت محاسبه

د 1400لمریز لیږدیزمالي کال له پیل ځخه ټول ملي عواید (کورنی سر چینې او بهرنۍ مرستې) 435.44 میلیارده افغانۍاټکل شوی خو د تیر مالي کال (1399) لمریز لیږدیز ّپه پیل کی 415.98 میلیارده افغانۍ اټکل شوی وه، چې د تیر کال په پرتله19.46 میلیارده افغانی او یا د ٪4.68 ډیرښت ښرګندوي . په ورته وخت کښی له ټولو ملي عوایدو څخه، د ۱۴۰۰ مالی کال په ملی

بودیجه کې د داخیلیسرچینو ټوله اندازه 216.50 میلیارده افغانۍ اټکل شو ي ده. پدې کې پر عایداتو مالیه ، سوداګر ی ، ګمرکونه ، فیسونه ، پاسپورتونه ، ریل پټلۍ عواید او نور ډیر څه شامل دي. او څه عواید د تیرو کلونو راټول شوي عوایدو څخه راځي.

کورنی سر چینې او بهرنۍ مرستې په خپل وار سره 216.50 میلیارده افغانۍ او 218.94 میلیارده افغانۍ اټکل شوې دی چی د تیر کال (1399) لمریز لیږدیز پرتله کورنی عواید 7.6 اویا هم ٪3.64 میلیارده افغانی ډیرښت ځرګندوي، همدغه راز د 1400لمریز لیږدیزمالي کال په پیلکی په بهرنیو مرستو کی هم 11.86 میلیارده یا ٪5.73 ډیری ښو دل شوی.

د ټریوالې ټولنی بالعو ضه مر ستې (تمویل کوو نکي ) په ټوله کې 218.94 ملیارده افغانۍ وړاندوینه شویده، چی د موسساتو او دمرسته کوو نکي هیوادونو لخوا چی د دولت دپرمختیایي پروګرامونو دپیل کولو اوهمدارنګه یوه برخه یې دامنیتي لګښتونو په موخه استفاده کیږي. دا مر ستې د چاری لګښتونو لپاره د ۱۴۰۰ مالی کال په پیل کی 107.14 میلیارده افغانی ځانګړی شوی او په تیر مالی کال 1399دچاری لګښتونو لپاره 91.95 میلیارده افغانی وی چی ٪16.52 یا 15.19 ډیروالی په ګوته کوی.

دپرمختیایي پروګرامونو مر ستې چی د ۱۴۰۰ مالی کال په ملی بودیجه کښټوله اندازه 111.80 میلیارده افغانۍ اټکل شو ي ده تیر مالی کال1399 په پیل کی 115.13 میلیارده افغانی اټکل شوی، په دو برخو ویشل شوی، اختیاری مر ستې چی 39.70 میلیارد افغانی دي، د تیر کال په پر تله ٪0.43 یا 0.17 میلیارد او غیر اختیاری مر ستې چی 72.10 میلیارد افغانی دي د تیر کال په پر تله ٪0.43 یا 3.16 میلیارد افغانی لږوالی څرګندوي چی ټول ټال دپرمختیایي پروګرامونو مرستو کی ٪0.43 یا 3.16 میلیارد کموالی راغلی.

ټول حقیقی عواید (کورني عواید او بهرنۍ مرستې) د 1400 لیږدیز مالی کال له پیل څخه تر وری میاشتې پای پورې77.16 میلیارده افغانۍ ته رسیدلې ده، چې ده دي جملې څخه کورني عواید 51.57 میلیارده افغانۍ او بهرنیو مرستی 25.58 میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

کورني عواید د وری په میاشت کې ډیروالی په نښه کوي، چې له 13.48 میلیارده افغانیو څخه د د وری په میاشت کې تر14.30میلیارده افغانی د کب میاشت کی. دا بدلون د 0.82 میلیارده افغانۍ او یا د٪5.72کمښت څرګندوي.همدغه رنګ د وری

په  میاشت کې په بهرنیو مرستو کې ډیروالی راغلی ده، چې ټوله بهرنۍ مرستې له 8.37 میلیارده افغانۍ دوری میاشت کې دی ، همدارنګه 7.82 میلیارده افغانۍ د کب په میاشت که وی . چې د 0.55 میلیـــارده افغانۍ او یا د٪ 7.04 لړوالیپه ګوته کوی.

په ورته وخت کې، ټول لګښتونه د 1400 لیږدیز مالي کال تر وری میاشتې پای پوری 75.51 میلیارده افغانیو ته رسیدلی دي چې له دې جملې څخه،چاري لګښتونه 64.35 میلیارده افغانۍ او پراختیایي لګښتونه 11.16 میلیارده افغانیو ته رسیږي.

چاری لګښتونه د وری  په میاشت کې 30.71 میلیارده افغانۍ دی، چې د کب په میاشت کې 17.41 میلیارده افغانۍ وی، دا بدلون د 13.30 میلیارد افغانۍ ٪76.36ډیربښت په نښه کوی. همدا رنګه پراختیایی لګښتونه د وری په میاشت 7.17 میلیارده افغانۍ دي چې د کب په میاشت کې 1.99 میلیارده افغانۍ وی چې د وری میاشتې په پرتله 5.18 میلیارده افغانۍ او یا د ٪260.86ډیربښت څرګندوی.

| ځانګړنه | د کب میاشت او ۱٤۰۰ مالی کال | د وری میاشت او ۱٤۰۰ مالی کال | د ۱٤۰۰ مالی کال له پیل څخه د وری میاشتې پوری | توپیر ( د کب او دوری میاشتو کې) | میاشتني وده (٪) |
|---|---|---|---|---|---|
| | د افغانۍ شمیرنه په ملیاردونو | | | | |
| ټول عواید | ۲۲.۱۱ | ۲۱.۸۵ | ۷۷.۱٦ | (۰.۲۷) | −۱.۲۱٪ |
| کورنی عواید | ۱٤.۳۰ | ۱۳.٤۸ | ٥۱.٥۷ | (۰.۸۲) | −٥.۷۲٪ |
| بهرنی عواید | ۷.۸۲ | ۸.۳۷ | ۲٥.٥۸ | ۰.٥٥ | ۷.۰٤٪ |
| ټول لګښتونه | ۱۹.٤۰ | ۳۷.۸۸ | ۷٥.٥۱ | ۱۸.٤۸ | ۹٥.۲٥٪ |
| چاری لګښتونه | ۱۷.٤۱ | ۳۰.۷۱ | ٦٤.۳٥ | ۱۳.۳۰ | ۷٦.۳٦٪ |
| پراختیایي لګښتونه | ۱.۹۹ | ۷.۱۷ | ۱۱.۱٦ | ٥.۱۸ | ۲٦۰.۸٦٪ |

سرچینه: د مالیې وزارت/د پولی سیاست د آمریت محاسبه

## .5 سویفت

**Report of( Outward) Transactions from 3/1/ 1400 to 31/01/1400**

| Categories | Remmiter Parties | Massage Type | USD | EUR | AED | CHF |
|---|---|---|---|---|---|---|
| A | Ministries | MT 103 ,700 & 910 | 18,876,246.36 | 1,980,156.00 | 416,134.00 | |
| B | Commercial Banks | 202 | 17,830,933.00 | 0 | 0 | 0 |
| C | Da Afghanistan Bank | 200 | 60,000,000.00 | 0 | 0 | 0 |

**Report of( Inward )Transactions fromfrom from 3/1/ 1400 to 31/01/1400**

| Categories | Beneficiary Parties | Massage Type | USD | EUR | AED | GBP |
|---|---|---|---|---|---|---|
| A | Ministries | MT 103 ,700 & 910 | 79,988,885.60 | 1,477,465.73 | 4,217,655.84 | 0 |
| B | Commercial Banks | 202 | 3,391,171.27 | 0 | 0 | 0 |

برعلاوه به تعداد 2 معامله تبادلوی مربوط بانک جهانی به ارزش 190,021.48 دالر نیز اجرا گردیده است.